مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آمنه ـ فنا ۲۰۲۳/۰۳/۱۰

# واکدار

ای چې زړه مې در بایللی
ای چې ژوند ته مې دې رنګ، او خوند بخښلی
ای چې تاسره په مینه یم مپینه
ای چې بې له تا جنت کې یم غمجنه

ای چې تانه مې قربان واړه هستي ده
ای چې تانه مې جار کړې زندګي ده
ای چې سیوری د بڼو مې در پېرزو دی
ای چې نور د دوو لیمو مې درپیرزو دی

ای چې ستا خوښي مې هر څه کې لیدلې
ما هماغه لار په سر سترګو منلې
ای چې ستا شمله مې تل هسکه ساتلې
که مانې زما د هیلو نړېدلې

یه واکداره! یه وکداره!
ولې نه غواړې چې زه د ژوند پر لاره
شم په خپلو پښو، په خپل اختیار روانه
ولې نه منې، چې زه یم،د خپلواکه ژوند حقداره
ولې نه غواړې چې لړ شم، له خوبونو راببیداره

ولې غواړې چې د جبر، دېوالونه رانه تاوو وي
ولې غواړې چې تل ستا د واک لاسونه رانه تاوو وي
ولې غواړې چې اسیره دې اوسېږم
ستا ملنګه، ستا فقیره دې اوسېږم

ولې غواړې احساسات مې دې جمود وي
رژېدلی مې دې ګل غوندې وجود وي
ولې غواړې اهتزاز ونه لرمه
زه په خیال کې هم پرواز ونه لرمه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولـئ

زما ذات په څه نيمګړی درته ښکاري؟
او خپل ځان څله پياوړی درته ښکاري؟
زه او ته دواړه اشرف المخلوقات يوو
زه او ته له يو بل، نه کم يو، نه زيات يوو

څه به ژوند وي چې هر پل مې ستا په واک وي
هره لار او هر منزل مې ستا په واک وي
څه به ژوند وي چې خپل ځان رانه خپه وي
خپل زړګی او خپل ارمان رانه خپه وي

څه به ما سره حساب د زنده ګۍ وي
څه به ما سره ځواب د بنده ګۍ وي
خدايه ماته دې که هر عذاب ټاکلی
خو ما نه، چېرې ژوند کړی، نه مې چيرې ژوند ليدلی

آمنه ـ فنا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ